AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر محب‌الله زغم
۲۰۲۴/۰۳/۰۴

# د هورمونونو د ناوړه استعمال زیانونه

د 2015 په مې میاشت کې دوه داسې ناروغان زموږ روغتون ته راغلل چې عمرونه یې تر دېرشو کم وو خو د زړه حمله (د مایوکارډ احتشا) ورباندې راغلې وه. د دې ځوانانو په کورنیو کې چا د زړه حمله نه وه تېره کړې، مانا دا چې فامیلي تاریخچه یې منفي وه. سګرېټ یې نه څکول، د لوړ فشار سابقه یې نه درلوده، د شکرې ناروغي او نور ریسک فکټورونه یې نه درلودل. دواړه ورزشکاران (باډي بلډران) وو.

خو، څه چې په دې ځوانې کې د دوی زړونه ورخراب کړي وو، د انابولیک سټیرویډونو ناوړه استعمال و.
انابولیک سټیرویډونه هغه هورمونونه دي چې د ټیسټسټیرون په شان عمل کوي. ټسټسټیرون هغه هورمون دی چې په نارمل ډول په خصیو کې جوړېږي او په سړي کې نارینه خواص پیدا کوي. ورزشکاران دا هورمونونه ځکه استعمالوي چې ورسره بدني ځواک یې زیاتېږي، د عضلاتو وده یې چټکېږي او په کم وخت کې یې خپلو ارمانونو ته رسولی شي.
ورزشکاران معمولاً دغه هورمونونه د پیچکارۍ په وسیله اخلي خو ځیني یې ګولۍ خوري یا یې جېل او کریم استعمالوي.
په تېوله نړۍ کې د دې هورمونونو دا ډول استعمال ناقانونه دی او که په ورزشي سیالیو کې د ډوپنګ ټسټ په وسیله څرګنده شي چې چا هورمون اخیستی دی، له مسابقې شړل کېږي. خو ځیني کمپنۍ په ناقانونه توګه داسې هورمونونه تولیدوي چې دغه ټسټ یې په اسانۍ سره نه شي پیدا کولای.

سټیرویډي هورمونونه که د ورزشکار عضلات ژر غټوي او بدني ځواک یې زیاتوي خو ورسره ګڼ زیانونه هم لري چې ځینې یې د دوی ژوند له خطر سره مخ کوي. یو عمده زیان یې د زړه حمله ده. دغه هورمونونه هماغسې چې د بدن نور عضلات غټوي، د زړه عضلات هم غټوي. څومره چې د زړه عضلات غټېږي، هماغومره ډېرې وینې ته اړتیا پیدا کوي خو دا چې د زړه رګونه دا وینه نه شي رسولی نو پر دوی د زړه حمله راځي چې ممکن د مرګ سبب یې شي او که په اوله حمله کې ژوندي هم پاتې شي، زړه یې له بنې ووځي او عمري ستونزې ورته پیدا کوي.

سټیرویډي هورمونونه د وینې پر غوړو بد اثر لري، بد کولسټرول (LDL) زیاتوي او ښه کولسټرول (HDL) کموي. بد کولسټرول د وینې د رګونو د تنګېدو سبب کېږي او رګونه چې تنګ شي، کېدای شي پر ناروغ د زړه حمله یا دماغي سکته راشي.

بل زیان یې دا دی چې پر ینې (ځیګر) منفي تاثیر کوي او ان د ځیګر د عدم کفایې سبب کېدای شي. له دې درملو سره د ځیګر د سرطان د پیدا کېدو چانس زیاتېږي.

دغه هورمونونه د وینې د کلکېدو (لخته کېدو) سبب کېږي. وینه که په هر رګ کې کلکه شي، هماغه رګ بندوي. که یو رګ پوره بند شي، وینه ځنې نه شي تېرېدای او د بدن هر ځای چې دغه رګ ورته وینه ورکوله، له مرګ سره مخ کېږي.

د سټیرویډي هورمونونو په وجه، عضلات بې درکه غټېږي او پر پلو (وتر یا د عضلې په اخر سر کې هغه کلک پرې چې عضلات له هډوکو سره نښلوي) فشار راوړي، دغه فشار کولای شي پلې وشکوي.
د دې هورمونونو زیات استعمال نرانو ته نور تاوانونه هم لري. خوټې (خصیې) یې وړکې کوي ځکه چې د ټسټسټیرون نارمل تولید ورسره کمېږي، د سپرم (نرینه هګۍ) شمېر یې کموي او ممکن له اولاده پاتې شي، د سر وېښته یې تویوي، تیونه یې غټوي، پر بدن یې داني (ځواني داني) زرغونوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

که ښځې سټیرویيدي هورمونونه وکاروي، پر نورو زیانونو سربېره، نرینه خواص په کې پیدا کېږي، تیونه يې وړوکي کېږي، غږ یې ډډېږي، کلیټوریس (د تناسلي الې د پاسني برخې زخه) يې غټېږي چې دا بيا عمري همداسې پاتې کېږي. همدرانګه د بدن وازده یې وېلي کېږي او پر بدن يې ویښته راشنه کېږي.

د دې هورمونونو بل زیان دا دی چې د هډوکو وده زیاتوي، خصوصاً د کوپړۍ هډوکي غټېږي، تندی راووځي، غاښونه سره لرې کېږي ځکه چې د زامې هډوکي غټېږي. که د کم عمر ځوانان یا ماشومان چې لا یې طبیعي وده نه وي بشپړه شوې، هورمون واخلي، د هډوکو وده يې ختمېږي او ټیټ پاتې کېږي.

دا چې اکثره وګړي دا هورمون د پیچکارۍ په وسیله اخلي نو کېدای شي په هیپاتیت (تور زېړی)، ایډز او نورو ناروغیو اخته شي. همدرانګه د پیچکارۍ د لګولو ځای کېدای شي میکروبي شي او ګزک وکړي.

سټیرویيدي هورمونونه انسان ته رواني ناروغۍ هم پیدا کوي، مزاج یې خرابوي، ځیږ او خشن چلند په کې پیدا کوي، او په هذیان او برسام یې اخته کوي. هذیان یعنې اپلتې ویل او برسام د داسې شیانو ادراک چې هېڅ نشته. مثلاً ناروغ ماران ویني، مختلف غږونه اوري خو په واقعیت کې هېڅ شی هم نه وي.

هغه کسان چې سټیرویيدي هورمونونه په دوامداره توګه اخلي، کېدای شي ورسره روږدي شي او که دا درمل وربانديې ودرېږي، ممکن ځینې ستونزې ورته پیدا شي. مثلاً د ناکرارۍ او بې وسۍ احساس، ستوماني، بې اشتهایي، بې خوبی، خلق تنګی او ژور خپګان احساس کوي او جنسي فعالیت يې کمېږي. تر ټولو خطرناک یې ژور خپګان دی چې کله کله د ځانوژنې سبب کېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ